# شتمنی SHTAMANAI

اوونیزه

**گرانو هیواد والو !**

د مالیې ورکړه د هیواد د اقتصادي ودې ضامنه ده؛ موږ کولای سو چې ستاسو د مالیې په ورکړې سره د هیواد اقتصادي سرچینې پیاوړې کړو.

شنبه | ٤ شعبان المنظم ١٤٤٤/ ٦ حوت ١٤٠١ | ٢٥ فبروری ٢٠٢٣ | سال اول | شماره ٣٩ | ٤ صفحه




## سرمقاله



### افغانستان هراسی جز تحریم های اقتصادی

یکی از معضل ها فراروی انکشاف اقتصادی افغانستان سیاست غلط و گمراه کننده دشمنان افغانستان است و عاملین این توطعه شامل افراد، گروها و حتی کشورها است، که بدون در نظر داشت شرایط بشری دشمنی سیاسی خود را از طریق منزوی ساختن افغانستان به پیش می برند. و همین تیوری باعث شده است که اکثریت سرمایه گذاران با وجودیکه از شرایط مساعد سرمایه گذاری در افغانستان آگاه اند اقدام به سرمایه گذاری نمی نمایند. در حالیکه افغانستان یکی از امن ترین مکانها برای سرمایه گذاری است. معافیت های مالیاتی، نیروی کار ارزان ثبات ارزش پول و از همه مهم تر نبود فساد و موجودیت امنیت همه دلایل قناعت کننده به سرمایه گذار است. گواه این مساله کار کردن تمام شهروندان خwارجی در فضای امن در چهارچوب موسسات در افغانستان است . دوم شفافیت در تمام گمرکات و نهادهای مالی به وجو آمده و عواید دولت بدون هیچ کمی و کاستی وارد خزانه دولت گردیده و جهت رشد و شگوفایی بیشتر کشور دوباره وارد جریان اقتصاد گردیده و صرف پروژه های عمرانی و عام المنفعه میگردد. نمونه بارز آن صد میلیاردی شدن عواید گمرگی افغانستان است که تاریخ کشور برای بار اول شاهد چنین رقم می باشد. از جانب دیگر اخازی های غیرقانونی، زورگیری و باج گیری هاییکه قبلا جریان داشت نیز به طور مطلق از بین رفته و کسی حتی یک افغانی بدون جهت از کسی تقاضا نمی تواند. اقتصاد غیر رسمی و غیرقانونی که همانا قاچاق و بازار سیاه میباشد به طور چشمگیری به حاشیه رفته و جلو فعالیت هایش گرفته شده. بنآ توطعه افغانستان هراسی و ترس موجود در افغانستان آوازه بیش نیست، که از جانب دشمنان افغانستان راه اندازی گردیده و هدف این توطعه ضعیف ساختن روحیه کسانی است که متعهد به منافع ملی است. پس برماست تا جلو این توطعه را گرفته با حس وطن دوستی که همانا وجیبه دینی ما وشماست تصویر درست و واقعی افغانستان را به دنیا نشان داده و هر حرکت ما باید به منافع ملی و ایمانی ما باشد، تا افغانستان عزیز را از انزوا نجات داده و به محور تصمیم گیری های مسایل بزرگ جهانی برسیم.

**درنښت**


**اداره**

## د ریاست الوزراء اقتصادي او اداري کمېسیونونو ته د بودیجې استماعیه وړاندې سوه




د مالیې وزارت له لوري د ۱۴۰۲ مالي کال د بودیجې هراړخیزه استماعیه د ریاست الوزراء اقتصادي او اداري مرستیالانو، محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخند او محترم مولوي عبدالسلام حنفي او د اسلامي امارت د کابینې د یو شمیر وزیرانو او مسؤلینو په حضور کې وړاندې سوه. په دغه غونډه کې، چې د مالیې وزارت په خیرصالون کې جوړه سوې وه، د مالیې وزارت د ملي بودیجې لوی ریاست له لوري د ۱۴۰۲ مالي کال لپاره د بودیجې ترتیب سوی سند د ټولو ارقامو سره شریک سو، ددې تر څنګ د راتلونکي کال د عوایدو سطحه، احتمالي کسر، د لګښتونو پر کنټرول او ځینې نورو مهمومو‌ضوعاتو باندې هم بحث وسو. تر تفصیلي استماعیې وروسته د ګډونوالو له خوا د ۱۴۰۲ مالي کال ملي بودیجې اړوند ټولو برخو کې پوښتني، نظریات او وړاندیزونه د مالیې وزارت سره شریک سول. د بودیجې ریاست به د همدې لارښونو په رڼا کې د بودیجې سند نور هم غني کړي او بیا به یې د تصویب لپاره د اسلامي امارت د کابینې سره شریک کړي.

## د مالیې وزیر د ولایتي سفرونو په لړ کې دا ځل بغلان ولایت ته سفر وکړ



د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د خپلو ولایتي سفرونو په لړ کې دا ځل بغلان ولایت ته سفر وکړ. د مالیې له وزیر سره، چې د دې رسمي سفر پر مهال د بغلان ولایت والي او یو شمیر ولایتي مسؤلینو ملتیا کوله په بغلان کې د ۸۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۰۰ ټنه ګازو یوه زېرمه او د ۱۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د تیلو یوه پمپ پرانیستنه وکړه. همدا راز ښاغلي بدري، د بغلان ولایت له مستوفیت او په یاد ولایت کې د دولتي شرکتونو د موجوده بنسټونو او امکاناتو لیدنه هم وکړه او مسؤلینو ته ئې د چارو د ښه مدیریت او پرمختګونو په تړاو لازمې سپارښتنې وکړې.

## بالاترین عواید گمرکی در تاریخ گمرکات افغانستان




برای نخستین بار در تاریخ گمرکات افغانستان در (۱۱) ماه اول سال مالی (۱۴۰۱)، مبلغ (۱۰۰) میلیارد افغانی عواید از گمرکات کشور جمع آوری گردیده است. این در حالیست که قبل از حاکمیت امارت اسلامی، عواید سالانه گمرکات کشور هرگز از (۷۲) میلیارد افغانی افزایش نه یافته بود. با اینکه تعرفه گمرکی مواد غذایی اولیه از سوی رهبری امارت اسلامی افغانستان (٦٨) درصد کاهش یافته است؛ اما باز هم یک ماه قبل از به پایان رسیدن سال مالی، عواید گمرکی به (۱۰۰) میلیارد افغانی رسیده است. افزایش بی سابقه عواید گمرکات نشان می دهد که کادرهای مسلکی و متعهد در گمرکات گماشته شده اند، سطح فساد به صفر رسیده و شفافیت کامل در امور ایجاد گردیده است. در حال حاضر تمامی گمرکات کشور به صورت (۲۴) ساعته و (١٦) ساعته برای طی مراحل سریع اموال تجاری فعالیت می کنند و علاوه بر آن تمامی موانعی که فرا راه تجار می گردید و یا زمینه فساد را مهیا می ساخت از بین رفته است. وزارت مالیه به ویژه ریاست عمومی گمرکات متعهد به عصری‌سازی گمرکات کشور و ایجاد تسهیلات لازم برای تجار در تمامی گمرکات می باشد؛ تا عواید ملي گمرکی بیشتر شده و با شفافیت کامل به خزانه دولت سپرده شود.

## د مالیې وزیر د خپلو رسمي ولایتي سفرونو په لړ کې کندز ولایت ته سفر وکړ



د مالیې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د یو شمېر مسؤلینو په ملتیا کندز ولایت ته سفر وکړ او په دغه ولایت کې ئې د سپین زر دولتي شرکت څخه لیدنه وکړه او ترځنګ ئې د دغه شرکت مسؤلینو ته د دولتي شرکتونو په ارزښت، د هیواد په اقتصادي وده کې د شرکتونو په رول او له ترلاسه سویو عوایدو څخه د ملي بودیجې په پیاوړتیا خبرې وکړې او دوی ته ئې د چارو د ښه مدیریت او پرمختګ په تړاو اړیني لارښووني هم درلودې. همدا رار ښاغلي بدري د شېرخان سوداګریز بندر د چارو لیدنه او ارزونه وکړه او هلته ئې د مالیې وزارت اړوند بنسټونه هم وارزول. نوموړي، مسؤلین د خپلو چارو ښه مدیریت او د هیواد د ابادۍ په موخه د عوایدو شفاف راټولولو ته وهڅول. د سفر په وروستیو کې ښاغلی بدري، د آمو سیند د ویجاړیو لیدنه او ارزونه هم وکړه.




**د بودیجې د لګښتونو په اړه د خزاینو لوی رئیس او د ولایتونو د مستوفیانو ترمنځ ناسته وسوه**

م ۲



**د ګمرکونو لوی رئیس د کندهار ولایت د سوداګرو ستونزي واوریدې**

م ۲



**د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي کندهار ولایت ته سفر وکړ**

م ۲





**عواید گمرک هرات نسبت به سال گذشته افزایش فوق العاده را نشان میدهد**

م ٤




**رشد بی سابقه فعالیت های ترانزیتی شرکت دولتی افسوتر**

م ۳



**Minister of Finance traveled to Kunduz Province**

م ٤

## د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي کندهار ولایت ته سفر وکړ



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست د عوایدو او گمرکونو پلټني رئیس ښاغلي محمد نادر همایون په مشرۍ یوه پلاوي د پلټنې سپارښتنو د تطبیق تعقیب (Audit Follow-up) په موخه کندهار ولایت ته سفر وکړ. د سفر په ترڅ کې د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي د کندهار ولایت له گمرک څخه لیدنه وکړه او د یاد گمرک له مسؤلینو او کارکوونکو سره یې خپلې مشورې ا وړاندیزونه شریک کړل. ښاغلي محمد نادر همایون، گډونوالو ته په خبرو کې د پلټنې د هدف، اهمیت او کاري بهیر په اړه خبرې وکړې او د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست او د پلټنې عالي ادارې د پلټونکو له لوري د تېرو پلټنو په ترڅ کې د ورکړل سوو اصلاحي سپارښتنو تطبیق ئې تعقیب کړ. د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي د یادې ادارې له مسؤلینو څخه وغوښتل چې د پلټنې د مؤثریت او چارو د سمون په موخه د پلټنې سپارښتني په خپله ټاکلې موده کې تطبیق او راپور ئې له مرکز سره شریک کړي. همدارنگه د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي د گمرکي پروسو د ساده کولو او لا شفافیت په موخه د کندهار گمرک له مسؤلینو سره خپل نظرونه هم شریک کړل. په پای کې د عوایدو او گمرکونو پلټني رئیس د کندهار گمرک د مسؤلینو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل او ژمنه ئې وکړه، چې ډېر ژر به ئې د وزارت مشرتابه ته د حل په موخه ورسوي.

## د بودیجې د لگښتونو په اړه د خزاینو لوی رئیس او د ولایتونو د مستوفیانو ترمنځ ناسته وسوه

د خزاینو لوی رئیس نصرت الله محمود په مشرۍ د بودیجې د لگښتونو په اړه د ولایتونو له مستوفیانو سره ناسته ترسره سوه. په دغه ناسته کې چي د مالیې وزارت یو شمیر مسؤلینو او د ۳۴ ولایتونو مستوفیانو گډون کړی وو، د روان ۱۴۰۱ مالي کال د بودیجې د لگښتونو په تړاو خبرې وسوې او مستوفیتونو ته د ورکړل سوي کاري طرزالعمل مطابق د ترسره سویو مالي اجرآتو څېړنه او ارزونه وسوه. همدا راز د ملي بودیجې د لگښتونو په سم مدیریت، د غیر ضروري لگښتونو په



مخنیوي، له طرزالعمل سره سم د مالي کال وروستیو اجرآتو، د راتلونکي مالي کال د بودیجې اړوند د مستوفیانو په وړاندیزونو او د مستوفیتونو په ستونزو بحث او د نظرونو تبادله وسوه او له مستوفیانو څخه په کلکه وغوښتل سول، ترڅو پورتني موارد په پوره صداقت او ایمانداری ترسره کړي. په پای کې د مستوفیانو په غوښته هوکړه وسوه تر څو د چارو د ښه مدیریت او ظرفیت لوړوني په موخه د راتلونکي مالي کال په لړ کي د مستوفیتونو کارکونکو ته روزنیز ورکشاپونه ترسره سي.

## په ننگرهار کي د ټرانزيټي محمولې له غیرقانوني تخلیې څخه مخنیوی وسو

د ننگرهار گمرک د گرځنده څارني منسوبینو د خپل استخباراتي راپور پر مټ د یو ټېلر ټرانزیټي بورې له غیرقانوني تخلیې څخه مخنیوی وکړ. یاده ټرانزیټي بوره چي گمرک کي د سندونو له مخي له پاکستان هیواد څخه د افغانستان له لاري تاجکستان هیواد ته ټرانزیټ کېده، خو مالک ئې د ټرانزیټي اصولو خلاف غوښتل چي د ننگرهار ولایت د مومند درې په ولسوالۍ کي تخلیه کړي، چي د گرځنده څارني منسوبینو له لوري ونیول سول او د قانون پلي کېدو په موخه د ننگرهار گمرک ریاست ته ولېږدول سوه. د بهرني ټرانزیټ د کړنلارې له مخي ټولي ټرانزیټي محمولې چي د افغانستان له خاوري تېرېږي باید له تخلیې او نورو بدلونونو پرته په ټاکل سوې موده کي له مقصد گمرک څخه ووځي.



## د گمرکونو لوی رئیس د کندهار ولایت د سوداگرو ستونزي واورېدې



د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید کندهار ولایت ته د خپل رسمي سفر په لړ کي د یاد ولایت له یو شمېر سوداگرو سره وکتل او د هغوی ستونزي ئې له نږدې واورېدې. په دې لیدنه کي چي د افغانستان د سوداگرۍ او پانگوني خوني مرستیال ښاغلي محمد یونس مومند او د کندهار د سوداگرۍ او پانگوني خوني رئیس هم شتون درلود، په پیل کي د افغانستان د سوداگرۍ او پانگوني خوني مرستیال وویل، چي د تېر کال په پرتله روان کال د افغانستان صادرات زیات سوي دي. نوموړي د گمرکونو لوی ریاست له لوري د گمرکي طی مراحلو په ځانگړي ډول د ټرانزیټ په برخه کي د سوداگرو ته د اسانتیاوو را منځته کول زمونږ په لومړیتوبونو کي دي او د سوداگرو د مالونو د چټکو پړاوونو ترسره کولو لپاره په گمرکونو کي کاري موده زیات سوې او په نورو زیاتو برخو کي هم اسانتیاوي رامنځته سوي دي. د کندهار ولایت یو شمېر سوداگرو هم په خپل وار سره په گمرکونو کي شته ستونزي د گمرکونو له لوی رئیس سره شریکي کړې. د گمرکونو لوی رئیس د کندهار سوداگرو ته ډاډ ورکړ چي ټولو قانوني غوښتنو ته به ئې رسیدنه وسي.

را منځته سویو اسانتیاوو څخه مننه وکړه. د گمرکونو لوی رئیس وویل، چي

## د حوت (کب) میاشتي د معاشونو د ورکړې په اړه د مالیې وزارت خبرتیا!




دا چي د کب میاشتي له پای ته رسېدو سره سم روان (۱۴۰۱) مالي کال ختمیږي او د راتلونکي مالي کال د بودیجې تر تصویب پوري د مالیې وزارت د خزاینو د سیستم فعالیت دریږي، چي بیا هیڅ ډول رسمي حوالې نه ترسره کیږي؛ نو پر همدې بنسټ د مالیې وزارت وغوښتل تر څو د ټولو دولتي کارکونکو (پرته له قراردادیانو) د کب میاشتي معاشونه د همدې میاشتي د لومړی نېټې څخه اجراء کړي، تر څو د کب میاشتي د معاشونو په ورکړه کي احتمالي ځنډ رامنځته نسي.

**د یادونې وړ ده، چي د قراردادي کارکونکو معاشونه به د کب میاشتي د ۱۵ نېټې څخه اجراء کیږي.**

## عواید گمرک قندهار نسبت به سال گذشته (۹۰)درصد افزایش یافته است!

در نتیجه مدیریت بهتر رهبری وزارت مالیه، مبارزه جدی با فساد اداری، استخدام اشخاص متعهد و مسلکی و ایجاد تسهیلات برای تجار در گمرکات، در (۱۰) ماه نخست سال روان از گمرک




قندهار (۱۱) میلیارد و ۳۲۴ میلیون افغانی عواید جمع آوری گردیده است که نسبت به سال ۱۴۰۰ هـ.ش (۹۰)درصد افزایش را نشان میدهد.

# تحلیل پیرامون مالیات

تهیه وتنظیم :
محمد احسان نکته دان

**قسمت دوم:**

**تاریخچه مالیات در افغانستان**

تاریخ مالیات در افغانستان در حالیکه افغانستان تاریخ طولانی مالیات دارد، بسیار مشکل است که معلومات تفصیلی پیرامون مالیات در این کشور را بدست آوریم. معلومات اندك و آنهم بدون اینکه مأخذ آن معلوم شود نشان میدهد که جمع آوری مالیات پیش از دونیم صد سال؛ یعنی تقریبا برای نخستین بار در عصر سلطنت احمد شاه بابا شروع شد. چنانچه در سال ١١٤٠ خورشیدی شعبه ای بنام دیوان همایون اعلی تأسیس و سردار عبدالله خان که بنام دیوان بیگی یاد می شد و متصدی این شعبه مقرر گردید که به مرور زمان لقت دیوان بیگی به مرور زمان به مستوفی المالك تبدیل شدو صلاحیت وی برابر با صلاحیت وزیر مالیه امروز بود. مالیات در عصر مختلف به نام های مختلف تحصیل میگردید. برخی آنها شکل اجباری را داشته و برخی را به صورت اختیاری به دولت پرداخت می نمودند. به عنوان مثال، سرچربی یك نوع مالیه اختیاری بود که مردم هزاره جات سالیانه بطور متمایز یك مقدار روغن به دربار پادشاه آورده تسلیم می دادند. همچنان انواع مالیات که تا سال ١٢٩٨ تحصیل می شد، عبارت بود از مالیاتی که مردم مزار بنام خانواده مستقلات و مردم خروار و خواجه انگور بنام باج سرانه می پرداختند. همین گونه بلوکداران عواید و مصارف دولت را قبل از دوره سلطنت امیر حبیب الله خان در دفاتر فرد به حساب اقوام و در زمان سلطنت امیر حبیب الله خان به حساب روز نامچه جمع آوری و بصورت جمع و خرچ معامله می کرد. بعد ها در زمان سلطنت امیر عبدالرحمان خان برخی از مالیات اجباری معاف گردید ولی مردم گردیز یك مقدار روغن و چند رأس اسپ را بصورت سلامانه به دربار می آوردند که بعد ها بصورت مالیه اجباری در عواید دولت حساب شد، و از مردم هرات نیز بنام های مختلف به قسمی مالیه اخذ می گردید. تحولات اساسی در قسمت امور حسابی و مالی و تبدیل مالیات جنسی به نقد در سال ١٢٩٨ در زمان امان الله خان رخ داد؛ چنانچه برخی مالیات که در گذشته به قسم متمایز و یا بصورت اجباری اخذ می گردید، معاف شد. بعد از جنگ عمومی در سال ١٢٩٥ حکومت افغانستان لازم دید که عواید و مصارف دولت سیستم عصری و تازه محاسبوی را روی کار کند، و نظر به روابط دوستانه که افغانستان با مملکت ترکیه داشت آقای علی افندی متخصص امور مالی و حسابی را استخدام نمود تا در عرصه مالیات و به وجود آوردن سیستم جدید افغانستان را یاری رساند و کارمندان مربوطه را آموزش دهد که این سیسم تا سال ١٣٠٣ جریان داشت و از سال ١٣٠٤-١٣٠٧ نظر به لزوم دید دولت جناب مرحوم سید محمد هاشم خان وزیر مالیه آن وقت سیستم شهریه که از محاسبه ایتالوی بود مروج ساخته و عواید و مصارف دولت تا عصر حبیب الله کلکانی به اساس سیستم فوق دوباره روی کار شد. در عصر محمد نادر خان دوباره سیسم شهریه روی کار و تا سال ١٣١٤ مروج بود؛ اما در سال ١٣١٤ در پهلوی سایر انکشافات دولت حکومت خواست که سیسم مالی و حسابی عصری تری را روی کار آورد. لهذا یك نفر متخصص محاسبه ایتالوی موسوم به مرسیوژنیو مخولی را استخدام نمود که سیسم ایجاد شده وی تا سال ١٣٣١ خورشیدی در دفاتر رسمی مروج بود و در سال ١٣٣٩ از طرف وزارت مالیه متخصصین امور حسابی مالی و اداری به کمك اداره همکار جی ان اس استخدام شد که در نتیجه سیستم بهتر روی کار آمد. چنانچه قانون مالیات و تعلیماتنامه جدید مالیات بر عایدات از اول حمل ١٣٤٥ مورد تطبیق قرار گرفت و در سال ١٣٥١ یك قانون دیگر نافذ شد که از طرف صدارت عظمی از اول سال ١٣٥٢ مورد تطبیق قرار گرفت. بعد از کودتای ننگین ٧ ثور افغانستان در یك قهقرا فرو رفت که نه تنها همه نظام اداری کشور از هم پاشید؛ بلکه سیستم مالی نیز از هم پاشیده مردم در برابر زمامدار مزدور قیام نمودند و منتج به اشغال افغانستان توسط جماهیر شوروی وقت گردید. همین گونه در اثر اشغال و جنگ های تحمیلی بعدی کدام اصلاحات چشمگیری در عرصه مالیات به چشم دیده نمی شود، صرف در زمان حکومت های انتقالی و ما بعد آن تلاش ها به خرج داده شد تا سیستم مالیات افغانستان را با سیستم و معیارهای بین المللی عیار سازند و در زمینه قوانین جدیدی را طرح و تصویب نمودند که این قوانین نیز کاستی های خود را دارد که نیاز به تجدید نظر و بهبود دارد و باید از طرف متخصصان مالی بازنگری شود تا شفافیت بیشتری را با خود به همراه داشته باشد.



**تعریف مالیات**

راجع به تعریف مالیات بین علمای مالیه اختلاف نظر هایی وجود داشته است و تعریف های زیادی از مالیات در کتب علم مالیه و علم اقتصاد به مشاهده می رسد و هنوز هم تعریف جامعی که شامل کلیه انواع مالیات ها باشد وجود ندارد. اخیرا دولتها صرف نظر از احتیاجات مالی دستگاه دولت و وصول برخی مالیات را اساس اصلاحات اجتماعی قرار داده و بدین جهت برای مالیات ها اساس و مبنای وسیع تری ایجاد نموده اند. دانشمندان مالیات تعاریفی را بر مبنای متفاوتی از مالیات نموده اند که در زیر برخی از این تعاریف ذکر می شود: دیوید هیوم فیلسوف معروف اسکاتلندی می نویسد: «مالیات، بها و جبران خدماتی است که از دستگاه دولت عاید اشخاص می گردد». تعریف مالیات از دیدگاه کنت دومیرابو سیاستمدار و اقتصاد دان شهیر قرن هجدهمی فرانسه: »مالیات، پیش پرداختی است که افراد برای استفاده از انتظامات عمومی می دهند». تعریف مالیات از دید شارل دو منتسکیو فیلسوف فرانسوی: «مالیات، قسمتی از دارایی است که شخص برای امنیت بقیه دارایی خود یا برای این که بتواند از بقیه دارایی با اسایش بهره مند شود پرداخت می کند». همین گونه تعریفات زیادی در کتب اقتصاد و مالیات تذکر یافته است که نمی توان بیشتر از این از ترس طوالت مقاله آن را نقل کرد. بناء به صورت فشرده تعریفی که فعلا برای مالیات مورد قبول است این است که» مالیه سهم پولی ای است که بر افراد و موسسات که درامد کافی دارند، جهت مساعدت به بیت المال (خزانه دولت) بدون دریافت عوض و بدیل وضع می شود.».

**ادامه دارد** ......................................

شتمنی SHTAMANAI
اوونیزه

## رشد بی سابقه فعالیت های ترانزیتی شرکت دولتی افسوتر




شرکت افسوتر یک شرکت ترانسپورتی وبارچالانی بوده که خدمات عمده آن مطابق اساسنامه ترانسپورت، بارچالانی وحفاظت اموال تجار ملی می باشد در این اواخر رشد بی سابقه در فعالیت های ترانزیتی داشته است. این شرکت در ادامه فعالیت های بیرون مرزی خود برای نخستین بار بعد از حاکمیت امارت اسلامی افغانستان توانسته است که ۴ کانتینر ۲۵ تنی محموله های تجارتی را به کشور ازبکستان انتقال دهد. این شرکت توانسته است که ۸ محموله بزرگ تجارتی شامل میوه جات و ترکاری باب که بخش عمده ی از اقلام صادراتی کشور می باشد، را از طریق زمینی به ازبکستان انتقال داده و علاوه بر آن با خریداری (۴۰) عراده وسایط بلند تناژ اکسور جرمنی، بخش ترانسپورتی خویش را تقویه نماید. شرکت دولتی افسوتر همچنان (۴۰) عراده وسایط بلند تناژ ماز و سوپر ماز را ترمیم و به بهره برداری سپرده و در نظر دارد تا با سرمایه گذاری جدید از طریق خریداری وسایط جدید، فعالیت های ترانزیتی خویش را بیشتر گسترش دهد. گفتنی است که با ایجاد تسهیلات بیشتری تجارتی میان افغانستان و کشور های آسیای مرکزی و بوجود آمدن فصل تازه از روابط میان این کشورها، که قرار است در آینده نزدیک اتفاق بیافتد، این شرکت می تواند با گسترش فعالیت های ترانزیتی خویش در افزایش عواید ملی و رشد اقتصادی کشور سهم فعالتری بگیرد.


# اعلانات داوطلبی

**د ١۶ ناحیه اوړونده زنده بانان سیمه کي د تیل پمت د داوطلبۍ اعلان**

د مالیي وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ولایت، ١٦ ناحیه اړونده د زنده بانان سیمه کي یو باب د تیلو پمپ چي ١٢٠٠ متره مربع مساحت لري په میاشتنۍ کرایه (٦٥٥٠٠٠) افغانۍ د مزایدي لپاره اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي اشخاص چي غواړي نوموړی ملکیتونه له ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه نیولو هوډ لري کولای شي خپل غوښتنلیکونه د اعلان د نشر له نیټي څخه د (١۴) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد شوي ملیکت شرطپاڼه (٣٠٠٠) افغانۍ په بدل کي تر لاسه کړي.

**د کابل جلال آباد پر عمومي سړك د یو باب پمپ استیشن د داوطلبۍ اعلان**

د مالیي وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ولایت اړونده د پکتیا کوټ په سیمه کي د کابل جلال آباد پر عمومي سړك یو باك د تیل پمپ ستیشن چي د (٢٧٦٠) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ له لارې اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي اشخاص چي غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای شي حپل غوښتنلیکونه د اعلان د نشر له نیټي څخه وروسته د (٢١) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد شوي ملیکت شرطپاڼه ٣٠٠٠) افغانۍ په بدل کي تر لاسه کړي.

**د (٣) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ اعلان**

د مالیي وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ولایت اړونده مرکزي سیمو کي لاندې دولتي ملکیتونه لري چي په بیلا بیل ډول یې د داوطلبۍ له لارې اعلان ته سپاري.
١. د کابل ولایت اړونده ٨ ناحیې رحمن مینه کي یو باب مغازه چي (١٦٩٧) متره مربع مساحت لري.
٢. د کابل ولایت ١٦ ناحیې اړونده د امکا دروازي کيڼ لور ته د (٧٠٨) متره مربع ځمکي چي یو باب تعمیر هم لري.
٣. د کابل ولایت اړونده ١٦ مې ناحیې کي د نساجي بگرامي په محوطه کي یو باب هنگر چي (١۴۴) متره مربع مساحت لري.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چي غواړي نوموړی ملکیتونه له ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه نیولو هوډ لري کولای شي خپل غوښتنلیکونه د اعلان د نشر له نیټي څخه د (٢١) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد شوي ملیکت شرطپاڼه د اسنادو له ارزوني وروسته او ابتدائي قیمت ته په کتو تر لاسه کولای سئ.

**(٢) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ اعلان**


د مالیي وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ولایت ١٦ ناحیه اړوند د نساجي بگرامي کي لاندې دولتي ملکیتونه په بیلا بیل ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته سپاري.
١. د کابل ولایت، ١٦ مې ناحیه نساجي بگرامي سیمي سره یو باب هنگر چي (٢١٦٦) متره مربع مساحت لري.
٢. د کابل ولایت ١٦ مې ناحیه نساجي بگرامي سیمي سره یو باب هنگر چي (٣١۴٣) متره مربع مساحت لري.
ټول هغه حکمي اشخاص چي غواړي نوموړی ملکیتونه له ذکر سوي مبلغ څخه په لوړه کرایه نیولو هوډ لري کولای شي خپل غوښتنلیکونه د اعلان د نشر له نیټي څخه د (٢١) ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د د (٢١٦٦) متره مربع هنگر شرطپاڼه په (٢٠٠٠) افغانۍ او د (٣١۴٣) متره مربع هنگر شرطپاڼه په (٣٠٠٠) افغانۍ په بدل کي تر لاسه کړي.

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه

**د امتیاز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** حبیب الله (خُبیب)
**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، مولوي عبدالرازق متقي، ابراهیم گران او اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش

**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** afghanistanmof@
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره :** ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)








## د ولایتي مستوفیتونو اداري عمومي مدیرانو لپاره انلاین روزنیز پروګرام ترسره سو

د ماليې وزارت د بشري سرچینو ریاست د مالي او حسابي عمومي ریاست سره په همږغۍ د ولایتي مستوفیتونو د عمومي اداري مدیرانو لپاره د انلاین اوونیز روزنیز پروګرام ترسره کړ. دغه پروګرام کې، چې د ماليې وزارت په خیبر هال کې چمتو سوی و، د ماليې وزارت د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د ماليې وزارت مالي او حسابي رئیس، احمدشاه احمدزي او د دې ریاست یو شمېر کارکوونکو ګډون کړی و. مولوي احمدشاه شاکر په خپله پرانیستي وینا کې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، اداري مدیریت د مستوفیت یوه له مهمو برخو څخه دی، چې د ټولو څانګو د مدیریت، څارني او کنټرول دنده په غاړه لري؛ نو له دې روزنیز پروګرام څخه مثبتې پایلې ترلاسه او خپلې وړتیاوې لوړې کړئ. هغه زیاته کړه، تاسي د دې بستونو وړ یاست، نو د قناعت وړ خدمات وړاندې کړئ او خپلو کارونو کې صادق واوسئ.


ماليې وزارت د بشري سرچینو ریاست د مالي او حسابي عمومي ریاست سره په همږغۍ د ولایتي مستوفیتونو د عمومي اداري مدیرانو لپاره د انلاین اوونیز روزنیز پروګرام ترسره کړ. دغه پروګرام کې، چې د ماليې وزارت په خیبر هال کې چمتو سوی و، د ماليې وزارت د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د ماليې وزارت مالي او حسابي رئیس، احمدشاه احمدزي او د دې ریاست یو شمېر کارکوونکو ګډون کړی و. مولوي احمدشاه شاکر په خپله پرانیستي وینا کې ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، اداري مدیریت د مستوفیت یوه له مهمو برخو څخه دی، چې د ټولو څانګو د مدیریت، څارني او کنټرول دنده په غاړه لري؛ نو له دې روزنیز پروګرام څخه مثبتې پایلې ترلاسه او خپلې وړتیاوې لوړې کړئ. هغه زیاته کړه، تاسي د دې بستونو وړ یاست، نو د قناعت وړ خدمات وړاندې کړئ او خپلو کارونو کې صادق واوسئ.


## Minister of Finance traveled to Kunduz Province



Minister of Finance, Alhaj Mullah Hedayatullah Badri, accompanied by a number of officials traveled to Kunduz province on 17 Feb 2023. During his travel to this province, he paid a visit to Spinzar State-Owned Corporation. In addition to providing necessary instruction for better administration and development, he highlighted the importance of this state-owned corporation, its contribution to national economic growth and boosting the national budget through its collected income. Likewise, Mr. Badri paid a visit to Sher Khan Bandar (Commercial port), where he assessed the relevant division of the Ministry of Finance and urged the authorities to improve management and transparent tax collection for the sake of country development. Mr. Badri proceeded to Amu Darya towards the end of his journey to assess the damage.

## The Finance Ministry has collected the highest customs revenue ever

For the first time in the history of the customs department of the MoF of Afghanistan, 100 billion Afghanis were collected in 11 months of the current fiscal year, like never before. In previous years, the customs collection never exceeded 72 billion Afghanis. However, the Islamic Emirate of Afghanistan has reduced customs duties on basic food commodities so far, but customs revenue has increased considerably. The extraordinary increase in the customs revenues indicates that right and committed people are assigned for right jobs, anti corruption steps have been taken and there is transparency in the process of collecting the revenues. To provide good services and more facilities all customs offices are operational 16 to 24 hours per day. The Ministry of Finance specially customs department attempts for the modernization of the systems to provide more facilities and efficiency for the collection of national revenues.




**قاري یحيیٰ تکل**

د افغانستان د ګمرکونو په تاریخ کې په لومړي ځل د روان (۱۴۰۱) مالي کال په لومړیو (۱۱) میاشتو کې د هیواد له ګمرکونو څخه (۱۰۰) میلیارده افغانۍ عواید راټول سوي دئ. د اسلامي امارت له حاکمیت وړاندې هیڅکله هم د هیواد د ګمرکونو کلني عواید له (۷۲) میلیارده افغانیو څخه لوړ سوي نه وه.

**Qazi Obaid**

در یازده ماه نخست سال ۱۴۰۱ ه ش عواید گمرکات ما به ۱۰۰ میلیارد افغانی رسیده است که این رقم در تاریخ گمرکات بی سابقه است. علت عمده آن نبود فساد است

**Zabihullah (..ذبیح الله م..)**

موږ پخپلو پښو دریږو او د ستونزو په وړاندې په متانت سره بریالي کیږو. ان شاءالله
ما به پای خود استاد می شویم و در برابر مشکلات با متانت کامیاب می شویم. ان شاءالله

**Inamullah Samangani**

افغانستان در ماه جدی سال روان به ارزش ۱۴۸.۷ میلیون دالر صادرات و ٦٨٦.٧ میلیون دالر واردات داشته است. بیشترین صادرات افغانستان به پاکستان (۷۸.۹ میلیون دالر) و هندوستان (۴۷.۴ میلیون دالر) بوده و بیشترین واردات از چین (۱۲٦.۲ میلیون دالر) و ایران (۱۰۹.٦ میلیون دالر) بود.

**Sediqullah Wafa**

#ښه_خبر!
د ماليې وزارت د فعاله هڅو په پایله کې نړیوال بانک چمتو شوی، تر څو په افغانستان کې د خپل دفتر په پرانیستلو سره د یاد بانک له لوري د تمویلېدونکو نیمګړو پروژو چارې هم بېرته پیل کړي.

**بابکر خیل**

بلند رفتن عواید گمرکات باعث خوشحالی هر افغان می باشد. این باعث خودکفایی در کشور خواهد شد .


د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.